# د کور کرایه او د یونیورسل کریډیټ ملاتړ بسته

په انګلستان کې د "کور کرایه" ملاتړ د ټیټ عاید لرونکو اتباعو سره د دوی د کرایې لګښت کې مرسته کوی. سربیره پردې ، د ملاتړ جلا کڅوړه د یونیورسل کریډیټ به نوم شتون لری، کوم چې د ټیټ عاید لرونکو اتباعو سره د ژوند لګښتونو سره مالی مرسته کوی. دا سند تشریح کوی چې د "کور کرایه" او "یونیورسل کریډیټ" مالی مرسته، څنګه کار کوی او څوک د ترلاسه کولو وړ دی او څنګه په دوه کڅوړو کې پلی کیږی.

## د کور کرایه ملاتړ

### وړتوب

تاسو به یوازې هغه وخت د کور لګښتونو د مالي ملاتړ ترلاسه کولو وړ یاست چې لاندني ټول شرایط پوره پلي شي:

- تاسو اوس مهال په انګلستان کې د استوګنې ځای په کرایه اخیستی ده. تاسو نشئ کولای د کوم ځای د اوسیدو دمخه د کور کرایه لپاره غوښتنه وکړئ ، او که د خپل استوګنځي کرایه نه ورکوئ، تاسو نشئ کولای د کور کرایه لپاره غوښتنه وکړئ.
- تاسو لږ تر لږه 16 کلن یاست (18 که تاسو د پاملرني لاندې یاست).
- تاسو د 16,000 پونډ څخه کم سپما لرئ یا د تقاعد حقوق ترلاسه کوئ.
- تاسو د یوې مالي ملاتړ کونکي سره ژوند نه کوئ.

د **کور کرایه** سیستم ته وړ کیدو لپاره، له لاندني شرایطو څخه هم یو شرط باید پلي شي:

- تاسو په موقتي استوګنځي کې ژوند کوئ
- ستاسو د کور مالک یوه شورا، خیریه، یا د کور جوړوني انجمن ده چې پالنه/ملاتړ برابروي.
- تاسو او ستاسو همسر (که کوم وي) د دولتي تقاعد عمر ته رسیدلی یاست (چې اوس مهال 66 دی).
- تاسو یا ستاسو ملګري د می 15، 2019 څخه مخکې د تقاعد حقوق ترلاسه کړي وي.

که له دغو شرایطو څخه هیڅ یو شرط هم ستاسو وضعیت بیان نه کوی، نو تاسو باید د کور لګښتونو کې د مرستې لپاره د **یونیورسل کریډیټ** سیسټم ته غوښتنه وکړئ. یونیورسل کریډیټ داسې یو مالی ملاتړ دی چې د ټیټ عاید خلکو سره د ژوند لګښتونو د پوښلو مرستې لپاره ډیزاین شوی ده (نور معلومات وروسته په دې سند کې موندل کیدای شي). دا ممکنه ده چې د کور ګټې او یونیورسل کریډیټ دواړو لپاره غوښتنه وکړئ، مګر یوازې هغه وخت چې تاسو په لنډ مهاله یا ملاتړ شوي کور کې ژوند کوئ (او له همدې امله د کور ګټې لپاره وړ یاست).

- که تاسو په لنډ مهاله یا ملاتړ شوي کور کې ژوند کوئ، نو تاسو کولای شئ د کور لګښتونو لپاره د کور کرایه ملاتړ او د ژوند لګښتونو لپاره یونیورسل کریډیټ ته خپله غوښتنه ورکړئ.
- که تاسو په لنډ مهاله یا ملاتړ شوي کور کې ژوند نه کوئ، نو تاسو کولای شئ د اوسیدو او د ژوند لګښتونو لپاره د یونیورسل کریډیټ ته خپله غوښتنه ورکړئ .
- په لنډ مهاله یا ملاتړ شوي کور کې ژوند کول به د مالي مرستې مقدار چې تاسو یې ترلاسه کوئ، زیات یا کم نه کوي - دا حالت یوازې د مرستې ځانګړې ډول ټاکي چې تاسو یې مستحق یاست.

لازمه نده چې تاسو د مرستی مطالبه کولو لپاره د برتانیا تابعیت ولرئ. که تاسو د ARAP او یا ACRS برنامو له لارې انګلستان ته راغلی یاست، او تاسو د وړتیا نورو شرطونه پوره کوئ، نو تاسو د کور کرایه د مطالبه کولو وړ یاست.

### د کرایه اندازه ټاکل معیارونه:

تاسو کولاې شئ د خپل ځيني یا ټول کرايي پوښښولو کي مرسته ترلاسه کړئ. د کور د کرایه اندازه ټاکل شوي نه ده؛ د کور ګټي اندازه د دې پر بنسټ توپیر لري چې آیا تاسو کور د شورا څخه کرایه اخیستي ده یا په شخصي توګه. دا همداسي پدې پورې هم اړه لري چې تاسو چیرته ژوند کوئ، ستاسو عاید/سپما او دا چې د کورنی تعداد مو څومره ده. که تاسو د شورا څخه کرایه اخیستي ده ، د کور ګټي به ستاسو د کرايي حساب کي تادیه شي (تاسو به پیسي ترلاسه نه کړئ)، مګر که تاسو په شخصي توګه اخیستي وی، د کور ګټي به ستاسو په بانکي حساب کي تادیه شي.

### شخصي کرایه:

که تاسو د یوی شخصي کور مالک څخه کرایه کوئ، ستاسو وړ کرایه یا ستاسو د ځایی کور تخصیص نرخ یا ستاسو اصلي کرایه ده - کوم یو چي لږ وي. د ځایی کور تخصیص نرخ ستاسو د موقعیت او د کورنی تعداد، په ځانګړې توګه د وړ خوب خونو شمیر په واسطه ټاکل کیږي.

د (کرايي) مقدار چي تاسو يې ترلاسه کولای شئ پدې لاندني مواردو پورې اړه لري:

- ستاسو د وړ کرايي نرخ او د ځایی کور تخصیص نرخ ترمنځ توپیر به.
- ستاسو د کورنی عاید، د مرستو، تقاعدی حقوق، او سپما په شمول (که د 6,000 پونډو څخه ډیر وی).
- ستاسو شرایط، لکه عمر یا معیوبیت.

د ځایی کور تخصیص نرخ به لاندی ویب پانی[1] کی وګورئ:

**د مرستی کچه:**

د ګټي کچه په مجموعي مقدار باندې د ټولو ګټو اعظمي حد ټاکي چي تاسو يې ترلاسه کولاې شئ. مګر معافیت پلي کيږي که تاسو:

- د کاري مالياتو کريډيټ ترلاسه کوی.
- د معلولیت یا ناروغی له امله امتیاز ترلاسه کوی.
- د تقاعدی حقوق وړ عمر څخه پورته وی.
- په لنډ مهاله استوګنځي کي ياست یا د خیریي لخوا ملاتړ کيږي.

### مطالبه کول

تاسو به د کور د ګټي لپاره د مطالبه کولو په وخت کي ځيني معلومات او ملاتړ کونکي اسنادو چمتو کولو ته اړتیا لرئ. که تاسو د یو ملګري سره ژوند کوئ، یوازې ستاسو څخه یو کس باید مطالبه وکړي.

مخکي له دې چي تاسو غوښتنه وکړئ، تاسو باید پوه شئ چي:

- تاسو څومره کرایه ورکوئ.
- آیا د آسانتیاوي لګښتونه (اوبه، ګاز، بریښنا) په کرایه کي شامل دي.
- آیا تاسو د خدماتو لګښتونه (لکه حفظ او مراقبت یا بیمه) ورکوئ.
- دخپل د کور مالک یا وکيل(ایجنټ) لپاره د اړیکو جزییات.

تاسو همداسي به د لاندني اسناد(اصلي، نه کاپي) سره د ثبوت به توګه چمتو کولو ته اړتیا لرئ:

[1] Search for Local Housing Allowance rates by postcode or local authority : DirectGov - LHA Rates (voa.gov.uk)

- وروستي تاديات (پنځه که تاسو ته په اونۍ کې تاديه کيږي، دوه که تاسو ته مياشتنۍ تاديه کيږي).
- د تيرو پوره دوو مياشتو لپاره د بانک صورت حسابونه
- د کوم بل عايد ثبوت چې تاسو يې ترلاسه کوئ يا هغه پانګه اچونه چې تاسو يې لرئ (د انفرادي سپما حسابونه ، ونډو او بانډونو په ګډون)
- د هر هغه چا لپاره د عايد ثبوت چې تاسو سره د متعلقين پرته ژوند کوي - پدې کې به بالغ خپلوان يا ملګري شامل وي چې ستاسو سره ژوند کوي.
- ستاسو د نوم او پتې مدرک. د دې د ثابتولو لپاره، تاسو بايد لاندې مواردو څخه دوه يې وړاندې کړئ:
    - پاسپورټ
    - د انګلستان د موټر چلولو جواز(لايسنس)
    - د زيږدون يا د واده سند
    - د بايومتريکي استوګنې جواز
    - د دايمي استوګنې کارت
    - د شاهي عوايدو او ګمرکونو اداره يا د بريتانيا هيواد وزارت ليک
    - د آسانتياوي وروستنۍ بيل
    - د بانک وروستنۍ صورت حسابونه
    - د وروستنۍ حکومتی مرستی اعطا ثبوت
- که تاسو د شخصي مالک څخه کرايه اخيستې وی، تاسو به د کور مالک څخه يو ليک هم چمتو کړئ چې ستاسو کرايه تاييدوي، يا د کرايه کولو هوکړه ليک که تاسو ځان سره ولرئ.

تاسو کولاې شئ د خپل ځايی شورا له لارې د کور کټې لپاره غوښتنه وکړئ، مګر دا چې تاسو د تقاعد کريډيټ لپاره وړ ياست. که چيرې ستاسو يا ستاسو په کور کې د بل چا لپاره شرايط بدل شي، تاسو بايد سمدستي ځايی شورا ته خبر ورکړئ، ځکه که تاسو دا کار ونه کړئ، د کور کټې لپاره ستاسو مطالبه کيداې شي ودرول شي يا کم شي. په شرايطو کې بدلونونه کې لاندني شامل دي:

- د کار پيل يا بندول
- ستاسو په عايد، سپما، پانګونې يا ملکيت کې بدلون
- د کور څخه کډه کول
- ستاسو په کرايه کې بدلون
- د اوږدې مودې لپاره بهر ته تلل
- روغتون، د پاملرنې کور يا د سرپناه ځاى ته ننوتل
- د کورنۍ په نفوس کې بدلون (ستاسو په کورنۍ کې د زيږون او مړينې په شمول، هغه خلک چې ستاسو له کوره وتلي يا يو ماشوم چې 18 کلن شي)
- ستاسو د مهاجرت په حالت کې بدلون

که چيرې په شرايطو کې بدلون د دې لامل شي چې تاسو نوې دنده ترلاسه کړئ يا ستاسو عايد ډير کړئ، ستاسو د کور کرايه مرسته ممکن بندې شي. په هرصورت، ستاسو شورا ممکن لاهم وکولاى شي چې تاسو ته کټې درکړي يا ستاسو اوسنی تاديه وغزوي. تاسو اړتيا نلرئ د دې لپاره مطالبه وکړئ - ستاسو شورا به تاسو ته ستاسو د وړتيا په اړه ليکي.

## د اضافي لګښت سره مرسته:

که ستاسو د کور ګټې ستاسو د کرایې او د کور لګښتونه نه پوښي، تاسو کولای شئ د خپل ځایی شورا سره اړیکه ونیسئ ترڅو د کور احتیاطی تادیاتو غوښتنه وکړئ. تاسو همداسي یوازې هغه وخت د کور احتیاطی تادیاتو لپاره غوښتنه کولای شئ که چیری تاسو اوس مهال د کورکرایه یا یونیورسل کریډیټ څخه یوپي ترلاسه کوئ. په انګلستان او ویلز کې، د کور احتیاطی تادیاتو د افرادو سره د کور لګښتونو سره د تمویل مرسته کوي، په ځانګړي توګه هغه کسان چي در لاندی مواردو څخه اغیزمن شوي دي:

- د مرستی کچه
- په تولنیز کرایه شوي سکټور کې د اضافي خوني مالي مرسته لری کیدل
- د ځایی کور جوړولو تخصیص نرخونه

کور احتیاطی تادیات ممکن د لګښتونو پوښلو کې مرسته وکړي لکه:

- د کرایي کمښت
- د کرایي زیرمي
- د ځای په ځای کولو په وخت کې د کرایي دمخه تادیه.

د کور احتیاطی تادیاتو د درخواست کولو لپاره، خپل ځایی شورا سره اړیکه ونیسئ او خپل شرایط تشریح کړئ. هره شورا یوه ویب پاڼه لري چې د دوی د اړیکو تلیفون شمیره او بریښنالیک آدرس لیست کوي. ستاسو شورا به ستاسو د شرایطو ارزونه وکړي ترڅو د کور اختیاري تادیاتو لپاره ستاسو وړتیا، او د هرې پیسې اندازه او موده وټاکي. د کور احتیاطی تادیاتو موده د شرایطو پراساس توپیر لري او ممکن تاسو څخه وغوښتل شي چې اضافي کار وکړئ یا د اوږدې مودې حلونو لپاره نور ارزانه کور ومومئ.
*مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې وړاندې شوي معلومات د حکومت له ویب پاڼې څخه اخیستل شوي او ممکن د بدلون تابع وي. د خورا تازه او تفصیلي نسخې لپاره، مهرباني وکړئ لاندې لینک[2] باندې کلیک وکړئ

که تاسو نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، تاسو کولی شئ د 447360861633 + واټس اپ شمیره او یا Afghanistan@uspuk.org بریښنالیک ته پیغام پریږدئ.

[2] [Housing Benefit: Eligibility - GOV.UK (www.gov.uk)](https://www.gov.uk)
[Housing Benefit - Citizens Advice]()
[Universal Credit and paying rent | MoneyHelper]()